## مطبوعاتي اعلاميه

### د حسینه حکومت له پاسپورت څخه «له اسراییل پرته» کلیمې په لیرې کولو سره د غیرې قانوني یهودي هویت د پیژندلو لپاره یو پړاو وړاندې لاړ

د تغیراتو تر نامه لاندې چې د «نړیوالو معیارونو» په نوم هم یادیږي د حسینه حکومت له نویو پاسپورتونو څخه د «له اسراییل پرته» کلیمه لیرې کړه. صهیونیستانو هم د سفر د بندیز د لیرې کولو لپاره د دې اقدام هر کلی وکړ او له بنگلدیش څخه یې وغوښتل چې له دوی سره ډیپلوماتیکې اړیکې عادي کړي. دغه تصمیم وروسته له هغې فوراً نیول کیږي چې د یهودو قاتل نظام د غزې پر بې دفاع خلکو باندې بې رحمه بریدونه وکړل. حسینه د یهودي اشغالگرو د دریځ د اسانولو او بلاخره د هغه د پیژندلو لپاره د اسلامي خاورو له نورو منافقو حاکمانو سره یو ځای په ښکاره ډول خپل لومړی گام پورته کړ. د هغې خاین رژیم د پردې ترشا په پټه مخکې له مخکې له یهودو سره معامله کړې ده. هغه د گرځنده ټیلفون د څارلو او قطع کولو سیستم له اسراییلي شرکت PicSix څخه وپیرلو. اوس دغه رژیم نه غواړي چې دغه مخفي اړیکه پټه وساتي سربېره پردې، غواړي چې له دغه دوه مخی څخه ځان وباسي.

**اې مسلمانانو،** له دغو خاینو حاکمانو څخه د هر شي غوښتنه کول هیڅ تغیر نه راولي ځکه چې په دوی کې هیڅ خیر نشته. الله سبحانه وتعالی د دغه منافقانو په اړه داسې فرمایي:

**[وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ وَإِنْ يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ]**

**ژباړه:** *«ته که دوی ووینې، نو د دوی بڼې اوځبرې به ډېرې شانداري درته ښکاره شي، که وغږیږي، نو ته به یې خبرو ته غوږ ونیسې. خو په اصل کې دوی د لرگي کُندې دي، چې له دیوال سره په مرتب ډول درول شوې وي. دوی هر زورور اواز د ځان پر ضد گڼي، دوی پاخه دښمنان دي. له دوی څخه ځان ساتونکی اوسه، خدای دي دوی ووهي، دوی کوم لوري ته اړول کیږي»* [منافقون:۴]

دغه حاکمان د کافرو اشغالگرو د غوښتنو لپاره خدمت کوي په دې خاطر دوی شاید د خپل یهودي حرام زاده ماشوم سره چې د مسلمانانو په زړه کې یې ځای نیولی دی مرسته وکړي. زموږ دغه غلامان حاکمان یوازینی سبب دی چې دغه غیرې قانوني یهود د دې جرئت کوي چې مسلمانان ترور او قتل عام کړي. دغه حاکمان په سادگۍ د امت له احساساتو څخه سوءاستفاده کوي او د دغه یهودي دښمن لپاره چاپلوسي کوي. مسلمانان د حسینې د دوه مخۍ شاهدان و کله یې چې په پارلمان کې د فلسطین د شهیدو ماشومانو لپاره مړې اوښکې تویولې، په

داسې حال کې چې د هغې حکومت په پټه له دغه دښمن سره اړیکه لري او مرسته ورسره کوي. د بنګلدیش مسلمانانو هم د BNP's ملاتړ د جوبایډن د دوه دولت حلارې په خاطر کاملاً رد کړ، چې دا د غیر قانوني یهودو په رسمیت پیژندلو څخه بل څه نه دي. نو د القدس د مبارکې ځمکې، د اسرا او معراج د ځمکې د ازادولو په خاطر موږ مجبور یو چې له دغه روافضو (جاهلو او بې عقلو) حاکمانو څخه چې د الله عزوجل اطاعت دومره نه کوي لکه چې د کافرو اشغالګرو اطاعت کوي ځان خلاص کړو.

**اې مخلصو نظامې افسرانو**، د مسلمانانو له دښمن سره معامله کول او له دوی سره د اړیکو عادي کول هغه لویه ګنا ده چې د تاسې د سترګو په وړاندې ترسره کیږي. تاسې څنګه غواړی چې د هغه الله سبحانه و تعالی سره چې الحسیب (حساب کوونکی) دی مخ شی په داسې حال کې چې تاسې د دغه خاینو حاکمانو د بې پروایۍ له منځه وړلو لپاره واقعي قدرت هم لری؟

**اې افسرانو**، دغه بېچاره امت ستاسې په منځ کې یو زړور جنرال را څرګندیدو ته په تمه دی چې د صلاح الدین ایوبي پر قدم، قدم کیږدي. له صلیبیانو څخه د دویم ځل لپاره د بیت المقدس ازادول جادو نه و. ستر صلاح الدین هم مجبور و چې ډېرې شجاعانه تصمیمونه ونیسي او له ډېرو هغو خنډونو څخه تېر شي چې په هغه وخت کې غیر واقعي او ناشوني بلل کېدل. هغه ناتوانه حاکم له قدرت څخه لیرې کړ، د خپلو مشاورانو د مشورې په خلاف مخکې له دې چې د القدس په لوري حرکت وکړي، د خلافت دولت یې متحد کړ.

**اې مخلصو افسرانو**، ایا تاسې د دغه هېواد د مسلمانانو غوښتنې نه اورئ چې د حسینه حکومت له منځه یوسئ او حزب التحریر ته نصرت (مادي ملاتړ) ورکړئ ترڅو دویم راشده خلافت بیا تاسیس کړي؟ راتلونکی خلافت به د اوسنۍ نړۍ استعماري نظم ونګوي، مصنوعي سرحدونه به له منځه یوسي او د اسلامي خاورو نظامیان به سره متحد کړي او غیری قانوني یهود به وشړي.

**اې افسرانو**، موږ پر تاسو غږ کوو، څوک چې ستاسې په دین ویاړي دا چانس له لاسه مه ورکوئ چې د دریم ځل لپاره د جهاد فی سبیل الله له لارې د بیت المقدس په ازادولو سره په تاریخ کې خپل نوم د صلاح الدین په څنګ کې ولیکل شي. پوه شه چې الله سبحانه وتعالي فرمایي دوی نه جوړیږي نه بیا ډاډ پیدا کوي.

**[إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ لأَنفُسِكُمْ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيرًا]**

**ژباړې:** *«ګورئ! که تاسې ښه وکړل، نو هغه په خپله ستاسې لپاره ښه ول؛ او که بد مو وکړل، نو هغه په خپله ستاسې لپاره بدې ثابته شوه. بیا کله چې د دویمې وعدې وخت راغی، نو موږ نور دښمنان پر تاسې مسلط کړل*

*چې هغوی ستاسې څېرې غمګينې کړي؛ او په مسجد (بيت المقدس) کې په همغه شان ننوځي، لکه څنګه چې مخکې دښمنان ننوتلي ول او پر کوم شي چې د هغو لاس بر شي هغه تباه کړي»* [اسرا: ۷]

**د حزب التحرير- ولايه بنګلديش مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د شوال ۱۴مه**

**۲۰۲۱م کال، د مې ۲٦مه**

**د صدور ګڼه: ۲۵/ ۱۴۴۲**

**#Aqsa_calls_armies**

**#AqsaCallsArmies**

**#OrdularAksaya**

**#الأقصى_يستصرخ_الجيوش**